شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٦٩٢ ګڼه / چهار شنبه ۲۷ شعبان‌المعظم ۱٤٤٦ هـ.ق / د کب ۸مه ۱٤۰۳ هـ.ش /۲٦ فبروري ۲۰۲٥ میلادي

د دوبۍ نړیوال نندارتون کې د افغاني تولیداتو پراخ هرکلی وشو

یو شمېر سوداګر چې د هېواد په استازیتوب یې د دوبۍ په نړیوال نندارتون کې ګډون کړی، وایي چې په دغه نندارتون کې د افغانستان کورني تولیدات د نړیوالو پېرېدونکو پام ځانته اړولی دی.د نندارتون یو تن ګډونوال مسعود رحماني باختر اطلاعاتي آژانس ته وویل، چې د هرات د تولیداتو لپاره ٨ ځانګړې غرفې جوړې شوې وې، چې په کې د وطني محصولاتو هر ډول وچه مېوه، زعفران او د بېلابېلو انرژیو تولیدات ننداري ته وړاندې شوي وو.نوموړي زیاته کړه، چې د هېواد تولیدات نه یوازې د نړیوالو پېرېدونکو پام ور اړولی، بلکې له یو شمېر نړیوالو شرکتونو سره سوداګریز هوکړه لیکونه هم لاسلیک شوي دي.په ورته وخت کې یو شمېر سوداګر چې د زعفرانو محصولات یې ننداري ته وړاندې کړي وو، وایي چې د دغه نندارتون له لارې د هېواد لوړ کیفیت لرونکي محصولات په پراخه کچه تود هرکلی شوی او توانېدلي چې د نړیوالو بازارونو پاملرنه ترلاسه کړي. بل لور ته، د هرات ولایت د صنایعو او کانونو خونې رئیس حمیدالله خادم وایي، چې په دې ډول نندارتونونو کې ګډون د کورنیو تولیداتو د معرفي کولو او د هېواد د صادراتو د پراختیا لپاره غوره فرصت دی.د یادونې وړ ده، چې د دوبۍ نړیوال نندارتون هر کال د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د استازو په ګډون ترسره کېږي او د هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره مناسبه زمینه برابروي.

کمیسیون تدارکات ملی قراردادهای ده ها پروژه را منظور کرد



به ریاست ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست الوزراء، کمیسیون تدارکات ملی قراردادهای ۲۷ پروژه را، به ارزش حدود سه میلیارد افغانی منظور و ۷ پروژه دیگر را تعدیل کرد.به گزارش آژانس باختر، به نقل از خبرنامه دفتر رسانه های ریاست الوزرا، جلسهٔ نوبتی کمیسیون تدارکات ملی دیروز در قصر مرمرین برگزار شد و در آن، طبق اجندا، ۳۷ پروژه برای بحث ارائه شد. از این میان، قرارداد ۲۷ پروژه منظور، ۷ پروژه دیگر تعدیل ، یک پروژه لغو و دو پروژه دیگر به دلیل موجودیت مشکلات در پروسه تدارکاتی، به تعویق افتاد.در مورد این دو پروژه، به کمیته‌های تعیین شده وظیفه سپرده شد تا تعدیلات ارائه شده از سوی کمیسیون تدارکات ملی را در نظر گرفته و گزارش آن را با رهبری کمیسیون شریک ص۳

دیدار وزیر اطلاعات و فرهنگ با سفیر کشور جاپان

وزارت اطلاعات و فرهنگ در یک خبرنامهای گفته است که ملا خیرالله خیرخواه وزیر اطلاعات و فرهنگ در دفتر کارش با تاکایوشی کورومایا سفیر جاپان مقیم کابل در حالیکه مولوی عتیق الله عزیزی معین فرهنگ و هنر این وزارت نیز حضور داشت دیدار نمود.در خبرنامه گفته شده است که در آغاز آقای کورومایا در مورد پروژههایی ص۳



د اقتصادي ودې او کاروبار د غوړېدو برخه کې د افغانستان بانک هڅې



د افغانستان بانک رییس نور احمد اغا د ملګرو ملتونو سازمان د سرمنشي له ځانګړې استازې روزا اوتونبایوا او مل پلاوي سره لیدنه وکړه.په دې لیدنه کې د افغانستان بانک رییس د کوچنیو مالي تمویلاتو اړوند موضوعاتو په اړه خبرې وکړې او دا برخه یې د هېواد په اقتصادي رغښت کې مهمه یاده کړه. نوموړي زیاته کړه، د افغانستان بانک ژمن دی چې په افغانستان کې کوچني مالي تمویلات وده وکړي او په دې وسیله د هېواد په ټولو برخو کې درانه هېوادوال له دې مالي خدمتونو څخه برخمن شي.په یاده غونډه کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې هم د اقتصادي ودې او کارو بارونو د غوړېدو په برخه کې د کوچنیو مالي تمویلاتو رول مهم یاد کړ او له خپله اړخه یې په دې برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.د یادونې وړ ده، چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال صدیق الله خالد هم ګډون درلود او د بېلابېلو مالي او بانکي موضوعاتو ترڅنګ یې د کوچنیو مالي تمویلاتو د موسساتو د فعالیتونو او د یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه له راغلي پلاوي سره خبرې وکړې.

فراه کې سېلابونو درې کورنۍ لاهو کړي



د فراه په پشتکوه ولسوالۍ کې پرونیو درنو ورښتونو ګڼو هېوادوالو ته مرګ ژوبله اړولې ده. د فراه د پېښو پر وړاندې د مبارزې او چمتوالي ریاست رییس مولوي محمد اسراییل سیار ویلي چې پرون ماسپښین شاوخوا یوه بجه د ۳ کورنیو غړي د چکر په نیت غره ته تللي وو چې سېلاب کې ایسار شوي وو چې ګڼ شمېر یې ژوبل او شهیدان کړي دي. ورته وخت کې د فراه د امنیه قوماندانۍ د رسنیز دفتر مسؤل مولوي محمد نسیم بدري هم ددې پېښې پخلی کړی. د ښاغلي بدري په قول، دا پېښه دد پشتکوه ولسوالۍ په کوجر کلي کې رامنځته شوې.یاده دې شي چې د فراه سربېره پرونیو درنو ورښتونو هلمند کې هم مالي او ځاني زیانونه اړولي دي

سرمقاله

اوبه؛ هغه څه چې له هغو پرته ژوند نا شونی دی!

د اوبو د ارزښت او اهمیت لپاره همدومره بس ده چې خالق تعالی یې د ژوند اساس او بنسټ بولي او موږ هم په دې پوهېږو چې موږ انسانانو ته الله عزوجل اوبه راکړې ، راکوي یې اوله آسمانه یې را اوروي او دا د هغه خپل کار او قدرت دی چې موږ یې نه پیدا کولو کې څه دخل اوغرض لرلی شو او نه زیاتولو او کمولو کې . ځکه خو لازمه ده خپل ټول پام هغې موضوع ته واړوو او کار پکې وکړو کومه چې موږ پورې اړه لري او پرې مکلف یو . دا فقط د اوبو ساتنه، زېرمه کول، داستعمال ښه تنظیمول او دضایع کېدلو مخنیوی دی. دا ډېر د شکر ځای دی چې څښتن تعالی موږ افغانانو ته ښې پرېمانه خوږې اوبه راکړې، تردې چې زموږ له هېواده (۷–۸) څپاند سیندونه ټول کال ګاونډیو هېوادوته وړیا وربهېږي او هغوی یې هم په ډېره ښه طریقه استعمالوي. خو افسوس خبره داده چې موږ خپله بیا د همدغې قیمتي مادې په استعمال او زېرمه کولو کې خورا زیات غافل او نا اهله یو. تاسې فکروکړئ پاک خدای جل جلاله موږ ته ټول کال په کافي اندازه اوبه راکوي او ښه د رحمت بارانونه را باندې اوري، خو موږ یې د زېرمه کولو وړتیا نه لرو، ویالې او بندونه مو د نشت برابر دي اوله همدې کبله په بشپړه توګه زموږ له سیمو تیرېږي اونورو ته ورځي ، په داسې حال کې چې موږ بیا لګیایو او ګام پر ګام کوهیان جوړوو او د ځمکې له معدې هغه اوبه راباسو چې له زرګونو کلو راهیسې پکې زېرمه شوې او باید یوازې ډېرو سختو وچکالیو کې را ووېستل شي. په دې توګه زموږ هغه د پېړیو لرغونې اوبیزه ذخیره هم مخ پر کمېدو او ختمېدو روانه او کال په کال یې سطح نوره هم پرېوځي چې حتماً به یوه ورځ بالکل وچېږي هم. بناء پردې زموږ اساسي مکلفیت دادی چې سرله همدې روان پسرلي پرټول ملت د یوملي اشر غږ وکړو، حکومت او رعیت ټول ملاوتړو او دهرې چیني او درې اوبه ، سېلابونه، واورې او بارانونه ټول داسې بندونو، ډنډونو او ویالوته ور سمې او پکې را ایسارې کړو چې زموږ اړتیا پوره او اضافي برخه یې بیرته ځمکې ته جذب او د سبا لپاره زېرمه شي. داچې اوس د اسلامي امارت مسئولین وخت پروخت د اوبو پر موضوع مجلسونه جوړوي، دعامه پوهاوي هڅه هاند کوي او ترخپله وسه یې د نهرونو او بندونو پر جوړولو لاس پورې کړی، پرته له شکه د هېواد ودانولو اساسي کارته یې لاس اچولی. پکارده چې د خیر په دغه چاره کې هم ملي پانګوال برخه واخلي اوهم کلي په کلي د خپل وس او ځواک په کچه د عمومي اشرونو پرمټ د ویالو او بندونو جوړولوته ملاوتړي. موږ باوري یو چې دغه تګلاره به د افغانانو ژوند بدل، د پردیو له احتیاجه به یې خلاص او سیالانو سره به یې سیال کړي.

ترمیم و ساخت ۶ شبکه آب آشامیدنی صحی در سمنگان



ثمرالدین شاهرخی،مسوول مطبوعاتی ریاست احیا و انکشاف دهات ولایت سمنگان می گوید: ترمیم و ساخت شش شبکه آب آشامیدنی صحی در ولسوالی های دره صوف پایین و خرم و سارباغ نیازمندی یک هزار ۸۵۷ خانواده را به آب مرفوع ساخته است. وی افزود: تامین آب آشامیدنی صحی برای ساکنان ولایت سمنگان بخشی از اولویت های حکومت امارت اسلامی می باشد.شاهرخی اظهارداشت که ساخت و ترمیم این شبکه های آب آشامیدنی صحی شامل نصب ٦ وال بکس، ٦٣ شیر آب، بیش از ۲۵۰۰ متر لوله کشی و سیم کشی برای سیستم برق آفتابی می باشد.به نقل از باختر، نامبرده می گوید: ساخت و ترمیم این شبکه های آب آشامیدنی صحی با هرینه بیش از سه میلیون و ٤۲۲ هزار افغانی انجام شده و زمینه کار برای ده ها تن فراهم گردید. به گفته وی این پروژه ها در قریه های ده کلان، ده اصل و لنگر سفلی ولسوالی خرم و سارباغ و در قریه های سردشت علی خیل، نوآمد علی خیل و علی خیل بالا موقعیت دارد.

ننګرهار کې پر ۴۲ جریبه ځمکه د مالټو بڼ جوړېږي

Afghanistan Agriculture ministry Facebook (Courtesy Photo)

د ننګرهار وادي کرنیز امارتي شرکت مسئولین وایي، چې د دغه ولایت د کانال ریاست اړوند ۴۲ جریبه شاړه ځمکه اباده شوې او د ۳ میلیونه افغانیو په لګښت پرې د مالټو بڼ جوړېږي.د یاد شرکت رسنیز دفتر باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې دا ځمکه د یاد شرکت د څلورم فارم په لومړي بلاک کې موقعیت لري، چې له کلونو راهیسې ۳مخ

لغمان کې ۸۰۰ تنو ته کاري زمینه برابره شوې

د لغمان ولایت د چرګانو د فارم لرونکو ټولنې مسئولین وایي، چې په دغه ولایت کې د چرګانو ۲۲۹ فارمونه جوړ شوي، چې په کې ۸۰۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.د یادې ټولنې مسئول ډاکتر حبیب الله نیازي په نوموړې غونډه کې ویلي، چې د یو شمېر سوداګرو په مالي ملاتړ د ۸۰ میلیونه افغانیو په لګښت دا فارمونه جوړ شوي، چې په هره ۴۰ ورځنۍ دوره کې شاوخوا ٦۱۸ زره ۴۰۰ چرګان بازار ته وړاندې کوي.په ورته وخت کې د لغمان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رئیس مولوي عبدالستار محمد د اتحادیې د فعالیت له پیل څخه خوښي ښوده او ویې ویل چې دوی به د ټولنې له غړو سره د همکارۍ تر څنګ د هغوی ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړي. دغه راز د یاد ولایت د اقتصاد رئیس مولوي جان محمد حامد وویل چې د دې فارمونو له لارې سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.نوموړي له نورو سوداګرو هم وغوښتل، چې په لغمان کې پانګونه وکړي، ترڅو د ډېرو خلکو لپاره د کار زمینه برابره شي.د یادونې وړ ده، چې د دې فارمونو تولیدات نه یوازې د لغمان په بازارونو کې پلورل کېږي، بلکې نورو ولایتونو ته هم صادرېږي.

کندهار کې د یوه چکډېم د جوړولو چارې پیل شوې



د اوبو او انرژۍ وزارت ویلي، کندهار کې د یوه چک‌ډېم جوړولو پروژې چارې د څه باندې دوه میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې.د کندهار ولایت د تخته پل ولسوالۍ د برغني په کلي کې د یوه چک‌ډېم جوړولو پروژې چارې د دوه میلیونه، ۱۵۴ زره او ۱۰۱ افغانیو په لګښت د کندهار ولایت د اوبو او انرژۍ رییس ملا سید محمد شرافت، علماوو او قومي مشرانو په شتون کې پیل شوې. ملا سید محمد شرافت د یاد چک‌ډېم ۳مخ

د جنتیانو او دوزخیانو تجارت

مولوي نورالحق مظهري

ژباړه: په حدیث کې راځي: که جنتیان تجـــارت وکړي نو دوی به په وریښمو کې تجارت وکړي او که دوږخیان تجارت وکړي نو دوی به په صرافۍ کې تجارت وکړي.

په جنت او دوزخ کې نه تجارت شته او نه هم تجارت ته اړتیا، خو که بالفرض جنتیان تجارت وکړي نو دوی به د وریښمو تجارت وکړي او په بل حدیث کې راځي چې د عطــرو تجارت به هم وکړي او که بالفرض دوزخیان تجارت وکړي نو دوی به بیا صرافي وکړي.

دلته به اصل کې هدف د وریښـــمو د تجارت ښــه والی او د صرافۍ بدوالی دی ځکه د وریښمو په تجارت کې عموماً تبادله له عین مال سره ده او تر ډېره بریده دوکه بازي او خطا أیستل پکې نه وي نو ځکه داسې سودا د الله تعالی خوښېږي او دا یې د جنتیانو د خوښۍ سودا هم ګرځولې ده او په صرافۍ کې چې عموماً تبادله د پیســـو ده دوکه بازي، درواغ ویل او قسم اخیستل ډېر کېږي ځکه نو د الله تعالی نه خوښېږي او د دوزخیانو د خوښې سودا یې ګرځولې ده.

البته د دې څخه هدف دا نه دی چې څوک د وریښمو سودا وکړي هغه به جنت ته ځي او که څوک صرافي وکړي هغه به دوزخ ته ځي بلکې په عامو حالاتو کې د سودا د ښه والي او بدوالي بیان دی نو که څوک په صرافۍ کې د سود، درواغو او دوکې څخه ځان وساتي او مشکوکه سودا ونه کړي هغه ریښتیني تاجر دی او الله تعالی به یې په ګناهکارو تجارانو کې نه شمېري او که څوک د وریښمو په سودا کې دوکه کوي او خلک خطا باسي بیا دی په دې باندې ګناهکار دی او د هغو تجارانو څخه شمېرل کېږي چې کارېې د الله تعالی نه خوښېږي.

د دې مثال داســـې دی لکه په یو حدیث کې چې د دوږخیانو ځینې صفتونه بیان شوي دي؛ لکه:

هغه څوک چې عقل نه لري او د آخرت پر کارونو حریص نه وي، هغه څوک چې په هر لوی او کوچني شـــې کې خیانت کوي او د خیانت کولو ته د غنیمت په سترګه ګوري، هغه څوک چې هر ګړی نور انسانان پر ناحقه دوکه کوي، هغه څوک چې بخالت کوي او هغه څوک چې درواغ وایي.

دلته هدف د دې کارونو غندل او بدې یې بیانول دي تر څو انســـانان ځانونه ورڅخه وساتي او د هغو کسانو څخه و نه ګرځي چې د دغو کارونو له امله دوزخ ته ځي.

په کورني جوړښت کې د هر چا بودیجوي سهم معلوم وي، خو اصلاحي نه

خالد تسل

له وګړو کورنۍ جوړېږي او کورنۍ بیا ټولنه تشـــکیلوي. طبعي خبره ده چې هر فرد دا خوښـــوي چـــې دی خپله مالي بودیجه د کورنۍ په شـــیرازۍ کې مصرف کړي، تر څـــو یې قربیان بل چا ته د احتیاج لاس و نه غځوي خو د تأســـف ځای دی چې زمـــوږ د ټولنې وګړي په بـــې لارۍ، بې ځایـــه مصارفو، ناوړه دودونو،خرافاتو، اســـرفونو او لهو ولعب کې د ســـیالۍ ډګر ته ســـره وتي دي. د ټولنې هر وګړی غواړي ښـــه پرېمانه شتمني، کورونه او موټري ولري، خو دا فکر د هیچا ســـره نشـــته چې ځان څنګه اصلاح کړم، خپل فکر څنګه معیاري کړم، کورنۍ ســـتونزې څنګه د اســـلام له طریقه حل و فصل کړم، د کورنۍ غړي څنګه د اسلام له احکامو څخه وخت نا وخته آګاه کړم، د کورنۍ په جوړښـــت کې د اصلاح له نګاه نه څنګه رول باید ولوبوم ، د خپل دښمن (کافر او شیطان) له چلونو ځان څنګه باخبر کړم ، تر څو د هغوی ســـره د مقابلې او مبارزې توان ولرم او د خپلو ماشـــومانو روحیه څنګه له اســـلام سره عیاره کړم .

بس د دنیا د ګټلو،ډېرولـــو او مصرفولو فکرونه د دماغونو پاڼې ګرځېدلې، پر هر پاڼه یې نوښـــته شوي تورې د دنیا اړوند دي، داســـې ډېرې کمې ککرۍ به ومونډل شـــي چې د دماغونو پر پاڼو یې د الله جل جلاله ســـره د ملګرتیا تورې پرې نوشته وي. که په حقیقت کې وکتل شـــي بریا د الله جـــل جلاله په کتاب باندې پر عمل کولو کې پرته ده، باید هر مســـئول کس د خپلې کورنۍ جوړښـــت د اســـلام په دوربین کې وکړي، نه د لوېدیځ او ختیځ په خړو پړو لار ورکـــو دوربینانو کې، د ټولنې د وګړو فکرونه به په دې دومره نـــه وي خراب چې عیال به مو د تربیې له اړخه څنګه شـــي؟ لکه د نفقې. الله جل جلاله د هر ســـاه کښ د روزۍ وعده اخیســـتې ده. هېـــڅ فکر خرابول نه دي په کار چـــې بچیان مو به څه وخوري، باید په دې فکر خراب کړو چې بچیان به مو صراط مستقیم څنګه پیدا کړي ،دا مهمه ده ، دا نه ده مهمه چې شتمني به زیانمنه شي او له لوږې به مړ شم، دا طبیعي خبره ده د رزق ســـهم په دنیا کې د ټولو انســـانانو یو شـــان نه وي، د یوه د رزق سهم زیات وي چې شتمن او بډایه یادېږي، د بل د رزق ســـهم کم وي چې مســـکین یادېږي. دا دنیا د امتحان او ازمایښت کور دی .که شتمن وي که غریب د خپل حال مطابق په ازمایښت کې دی. شتمن په دې ازمایښت کې دی چې الله جل جلاله زیـــات انعامونه پرې لورولي باید شـــکر پرې وباســـي ، صدقې وکړئ او په مال کې د الله تعالی جل جلاله حق چـــې زکات دی. باید ورکړي او غریب په دې ازمایښـــت کې دی چې په کړاوونو صبـــر وکاږي. نو معلومه شـــوه چې د کورنۍ په جوړښـــت کې یواځې بودیجوي ســـهم اړین نه دی،اصلاحي ســـهم باید د کورنـــۍ ځینو پوهانو غړو په ذمه واچول شـــي. دا چاره به مو د کورنۍ جوړښت روحیه د اسلامي احکامو سره عیاره ساتي. په همدې هیله

مدارس دینی، لنگرگاه ثبات در جامعه انسانی است

محمد مجاهد



مدرســـه یعنی نیروگاه معنوی جهان که از آنجا نور و روشنایی به بشریت توزیع می گردد.

مدارس دینی در افغانســـتان با ســـه گرایش عمده در عرصه های مختلف فعالیت دارند:

۱- علم و معرفت؛

۲- عرفان و تزکیه؛

۳- جهاد و سیاست.

و چهـــار اصل فکری، اعتقادی و عملی:

۱- پرهیـــز از پرداخـــتن بـــه مســـایل اختلافـــی امت اســـلامی و قرار دادن توحید و سنت در مرکز توجه خویش؛

۲- اندیشـــه و انگیزه بســـیار قوی در اتباع سنت؛ ۳- ارتباط با الله(ج) و جذبه ایمان و احتســـاب؛

۴- تلاش برای اعلای کلمة الله با روحیه سرشـــار از حمیت و غیرت دینی.

افغانســـتان کنونـــی یکی از کشـــورهایی اســـت که در گســـترش مدارس دینی نقش اساســـی دارد، چون مـــدارس دینی یک محیط مهمی برای تربیت انســـان است.

این منابـــع علوم دینی در اصل یک اجتماع کوچکی اســـت به موازات اجتماع بزرگ که ســـاحت آن از آلودگـــی های رنگارنگ پاک، کَه با نور ایمان صیقل گردیده اســـت می باشـــند؛ انســـان‌هایی کـــه مجهز با اندیشـــه ســـالم و غیر انحرافی اند مـــی توانند در محیط این اجتـــماع زندگی آرمانی را با گلواژه هایی که در بســـتر هـــم آوایی و هم صدایـــی اجتماعی می روید تجربه کنند.

بنابرایـــن مـــدارس دینـــی در ادوار مختلـــف تاریخ توانســـت، بیداری اسلامی را توســـعه بخشد و برای فروغ بیشـــتر در عرصه فوق الذکر درخشـــش فوق العاده داشته باشد؛

این کانون‌های علوم نجات بخش، با پوشـــش هویت دینی تاریخ پر افتخـــار و برگ زرینی را برای امت اســـلامی در ایـــن خطه از جهان اســـلام بـــه ارمغان آورند.مـــدارس دینـــی مأمـــن زندگـــی فرحت بخش واقعی اســـت، زیرا تربیت یافتـــگان این کانون‌های علـــوم فقط جنبش و حرکتِ برای آینده ها نیســـت، بلکه این مـــدارس بخش غیرِ قابل انکار از چشـــمه ســـارهای جاری حیات غیر متوقف اجتماعی است.

مدارس دینـــی فضای امن و مطمئنِ بـــرای متعلمین و محصلین پنداشته میشود.

زیرا طـــلاب می‌تواننـــد فرصتِ فهـــم رازهای جهان بزرگ معنوی، اجتماعـــی و فرهنگی خویش را پیدا کنند و احساسات و گرایشات روحی و فکری خود را به آزادی تمام در بســـتر کلمات ترجمانی نمایند.

کســـانی که با جسم های نحیف و عقل های کوچک جـــذب مـــدارس دینی شـــدند، با جســـم های ســـالم و بانشـــاط و با عقل هـــای فربه و نیرومنـــدِ جامعه اســـلامی تبدیـــل گردیدند. بدون شـــک که اَین قشر جامعـــه سرنوشـــت خویـــش را بـــا کلمات ســـبز دل نشـــین از نو نوشـــتند؛ یکی از شـــاهراه و مسیرهای مســـتقیمی کـــه جامعه اســـلامی را به اهـــداف عالیه هدایت می‌کند و یکی از شـــالوده های مســـتحکم و پایـــدارِ که می‌توان بر مبنی آن کاخ و قصر رفیع و با عظمتَ علـــم، حکمت و معرفت را بناء نمود مدارس علوم دینی می باشد.

با توجه بـــه تجربه‌هایی تاریخی مدارس دینی پدیده ای بودنـــد، کـــه رونق آنهـــا مهم ترین ســـبب رونق مســـلمانان افغانســـتان به طور خاص و ســـبب رونق جامعه اســـلامی بـــه طور عام بوده اســـت؛ هم چنان کساد و افول مدارس باعث افول و زوال ارزش های اخلاقی و علمی شـــده. لذا این سنگرهای داغ علوم به صورت هدفمند و سیســـتماتیک بنیاد نظام اسلامی را در پرتو فرامیـــن الهی برنامه‌ریـــزی می‌کنند، که ایـــن تلاش‌ها، مبارزات و مجاهدت ها بر اثر عوامل زمانی متعددی در گوشـــه و کنار منطقه ای تمدنی ما به بار نشسته است.

مـــدارس علوم دینی در حقیقـــت بارزترین مفهومِ را از ثبـــات و امنیت روانی در قلب انســـان تداعی می کند.

مدرســـه یعنی مظهر تبلور مســـاعی و افـــکار مجدد الف ثانی و شـــاه ولی الله محدث دهلوی، مدرســـه یعنـــی جولانگاه پیـــکار موحدین بـــا مبتدعین و راه گم کردگان،

مدرســـه یعنی درسگاه حدیث و سنت نبوی،

مدرســـه یعنی بارگاه محتشم عارفان و صاحب دلان،

مدرســـه یعنی مهد رشادت‌ها، دلاوری‌ها، شهسواران علم و عمل، دعوت و جهاد و مبارزه علیه اســـتکبار و نفس اماره.

فاضلان و طلاب کانون های علوم دینی در افغانستان با کمال مباهات الگوی الهام گیری مســـلمانان جهان در کشـــورهای دور و نزدیک در راه مبارزه با فساد، بی عدالتی، اســـتبداد و زورمداری قرار گرفته اند.

کشـــورهای اســـلامی که زمام امور شـــان به دســـت علمای دیـــن اســـت، اســـتقلال سیاســـی و اقتصادی دارنـــد. همه می‌دانند که اســـتعمارگران هویت دینی زمام داران کشـــورهای اســـلامی را بـــا خطر مواجه ســـاخته اند، صندوق بین المللی پول و بانک جهانی روش اســـتثمار را در کشـــورهای اســـلامی انتخاب کرده و فقط چند کشـــور محدود اسلامی است، که صلاحیت تهیه سیاســـت آزاد اقتصادی را در دســـت دارند.

در عرصه سیاسی امریکا و متحدانش جهت و مسیر کشورهای اســـلامی را تعیین می‌کنند و افغانستان به دلیـــل اینکه زمام امور در دســـت علمای دین اســـت صلاحیت تهیه سیاســـت داخلی و خارجی خویش را به صورت مســـتقلانه می داشته باشد.

در حـــال حاضر دانش آموختگان مـــدارس دینی می توانند در کشـــورهای اســـلامی خویش تعیین مســـیر کنند؛ چون این طیف جامعه ســـیره و روش رســـول اللـــه (ص) را بخوبی می داننـــد و اقوال زرین او را عزیز می شمارند.

احـــکام و کردار نبی مکرم اســـلام باید برای همه‌ی کشـــورهای اسلامی مثل افغانســـتان کنونی مشعل راهِ جامع قرار گیرد، تا بتوانند مســـایل سیاسی، اقتصادی و فرهنگـــی خویش را بـــر مبناي ســـیره پیامبر اکرم برنامه‌ریزی نمایند.

وقتـــی اوضاع و احـــوال یـــاران رســـول الله (ص) را مطالعـــه میکنیم، بـــا قلب مطمئن بـــرای مبارزه با مشکلات در وجود ما صبر و استقامت پیدا می‌شود. دشمنان اســـلام نمی دانند، که مدارس دینی پیام صلح را بـــه بشریت می‌دهـــد و به جای تجـــاوز به تفاهم متقابل تشویق می‌کند.

مـــتن دین اســـلام ملـــت مســـلمان را امـــت میانه رو تعریـــف، تفســـیر و تعبیر نموده، لـــذا امت میانه رو اجـــازه تجـــاوز غیر قانونـــی به حریـــم هیچ کس و مملکت را نمی‌دهد.

با اســـتناد تاریخ، وقـــتِ به پیامـــبر و یارانش اجازه جنگ داده شـــد، که کفَار ایشـــان و صحابه کرام را بسیار اذیت کردند.

دین اســـلام و علمای دین هســـتند که دستور آمادگی همیشـــگی برای صلح و امنیت را می دهند.

در صلـــح حدیبیـــه پیامـــبر شروطـــی را پذیرفت که ظاهراً برای برخی مســـلمین اهانـــت آمیز به نظر می رســـید، اما پیامبر فقط به این دلیـــل آنها را پذیرفت کـــه در آن پیمان ده ســـال زندگی پُر امـــن گنجانیده شـــده بود.چطور ممکن است که شـــاگردان مکتب محمدی با امنیت جامعه انســـانی سر ســـتیز داشـــته باشـــند؟! دشـــمنان اســـلام علیه مدارس دینی نفرت پراکنـــی، دسیســـه کاری و پروپاگنـــد پخش و نشر نمودنـــد و الی اکنـــون از جانب رســـانه های مزدور و شـــبکه های مجازی توســـط افراد معلـــوم الحال نفرت پراگنی، خزعبـــلات، لاطایلات، مزخرفات و چرندیـــات علیه این کانون‌هـــای علمی به گوش می رســـد، که ان شـــاءالله دیر یا زود ایـــن آلودگی های صوتـــی با هوشـــیاری امت اســـلامی در نطفه خفه و مضمحل خواهد شـــد. نظام اسلامی با سرمایه‌گذاری در مدارس دینی و اســـتفاده از این کانون‌های علمی نقش برازنده ای فرهنگی، سیاســـی و اقتصادی خود را در مناســـبات منطقـــه‌ای و جهانی برجســـته کرده است.

بـــدون تردید که مدارس دینی یـــک منبع کلان منابع انســـانی آگاه و با بصیرت و منبع بزرگ انرژی پایان ناپذیری در جامعه اســـلامی است، که اگر بصورت درست از این ظرفیت ها استفاده گردد، پتانسیل‌های عظیـــمِ را در عرصه‌های مختلف برای بهبود وضعیت مردمِ و کشور ما به وجود خواهد آورد.

۳۶۰ خبرې

اتلسمه برخه -امین وردګ

د بندګۍ شرط

۸۶یمـــه خبره- ما خو تر اوســـه داســـې بنـــده نهٔ دی لیدلـــی چې احتیاج شـــوی نهٔ وي، کهٔ تاســـو ولید نو ورته ووایـــئ چې خامخـــا احتیاجېـــږئ، ځکه چې احتیاج د بندګۍ شرط دی.

واړهٔ خلک

۸۷ یمـــه خـــبره- د ځینـــو خلکو هیکلونـــه لوی خو کارونه یـــې ډېر واړهٔ وي، اصل کـــې دوی واړهٔ دي مګر هســـې ځانونه غټ ورته ښـــکاري، یا خو د کم بصیرتـــه خلکو تر بصارته لـــوی ورځي؛ ام ! خدای پوهېږي؟

خپل کور

۸۸ یمه خبره- دا چې تهٔ اوس کوم شـــیان خپل بولې، دا دې هم خپل نهٔ دي، فکر وکړه! کهٔ دوه ســـوه کاله وروسته دې خپل کور ته راشې او ووایې چې دا زما دي، نـــو آیا څوک بهٔ یې درسره ومني؟!

هغه ورځ مه هېروه

۸۹ یمـــه خبره- اې انســـانه! هغـــه ورځ هېڅکله هم مه هېروه چې له ټولو نږدې کس بهٔ هم ســـتا د غاړې تنۍ شـــکوي او ګرېوان بهٔ دې پر ســـینه درڅېروي، خو تهٔ بهٔ (مه!) قدر هم نشـــې ورته ویلی!

متکبر انسان

۹۰ یمـــه خبره- کهٔ یو ســـړی هر څومـــره مقتدر هم وي پهٔ تشـــناب کې ضعیف دی؛ نو بیا غرور او تکبر انسان ته څهٔ ګټه لري؟!

اشغال؛ فکري جګړه او وارداتي ارزښتونه

نجیب‌الله جهادوال - اوومه برخه

امن خونې او د فساد جرړې

د امن خونو (Shelters) پـروژه د۲۰۰۳م کال په اوږدو کې د امریکا پرمختیایي مرستو ادارې(USAID)، راکفلر بنسټ، افرن فرانسـوي مؤسسې او نورو بهرنیو سـازمانونو په مالي مرسته او د ښځو چارو وزارت او بشري حقونو کمېسیون په همغږۍ د هېواد په پلازمېنه کابل او یو شمېر ولایتونو کې د هغو ښځو لپاره د پناه‌ځایونو چمتو کولو لپاره پیل شوه چې له کورني او ټولنیز تاوتریخوالي سره مخ کېدې.

د وروسـتیو معلوماتو پر بنسټ د اسـلامي امارت تر بیاځلي حاکمیت پـورې د کابـل، مزارشریـف ، هـرات، سرپل، ننګرهار،غور، دایکندي او یو شمېر نورو ولایتونو په‌شمول د ټـول هېواد په کچه کابو ۲۰ امن خونو فعالیت درلود او په هغو کې ۹۰۰ تنه هغه ښځې او نجونې ساتل کېدې چې له خپلو کورونو څخه به تښـتېدلې وې.دغه امن‌خونې په اصل کې د اسـلامي شریعت پر وړاندې د ښځو د بغاوت لپاره پناه ځای او د فحشاء مرکزونه وو .د کابل ادارې د عدلیې پخواني وزیر ښاغلي حبیب‌الله غالب په ۱۳۹۱ کال کې د مشرانو جرګې یو غونډې ته د خبرو پرمهال اعتراف وکړ چې امن‌خونې د فحشاء او اخلاقي فسـاد مرکزونه دي چې باید وتړل شي. همدارنګه د مشرانو جرګې غړې شهناز همتي هم په دغو مرکزونو کې میشتې ښـځې په فحشاء او اخلاقي فسـاد تورنې کړې چې ګواکې د فساد او بداخلاقي ترویج ته یې لاره پرانیستې ده.خو د ښـځو چارو وزارت او د افغان ښځو شبکې د عدلیې وزیر دغه تورونه بې‌ځایه وبلل او ویې ویل چې که دغه چارواکی په امن خونو کې د اخلاقي فساد په اړه کره اسناد وړاندې نه کړي، باید د دوی په وینا له افغان ښځو څخه دې بښنه وغواړي. له دې سربېره د بشري حقونو کمېسـیون او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ (یوناما) هم په دغه هېواد کې د مېرمنو او نجونو لپاره د امن‌خونو له فعالیتونو څخه په کلکه ننګه وکړه او په دې اړه یې د عدلیې وزیر خبرې ناسمې وبللې.

خو حبیب‌الله غالب بیا له طلوع ټلویزیون سره په مرکه کې ټینګار وکړ چې د خپلې ادعا د اثبات لپاره کره اسناد او شواهد په لاس کې لري.دغه‌راز د افغانانو پیوستون ټولنې په نوم یوې مؤسسـې هم د خپلې یوې سروې د موندنو پربنسـټ چې د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۱۴مه یې خپره کړه شوه او په کندهار، هلمند، بلخ او هرات ولایتونو د امن‌خونو او ښځینه محبسونو څخـه یې په کې معلومات راټول کړي وو، دغه پناه‌ځایونه نا امنه وبلل چې په وینا یې سیمه‌ییز قومندانان په کې له میشتو مېرمنو څخه جنسي استفاده کوي او له امله یې له دغو مېرمنو څخه زیات شمېر بې پلاره ماشومان هم زېږېدلي دي.

همدارنګه څه موده مخکې د کابل پخوانۍ ادارې یو تن پولیس چارواکي امین‌الله رنجبر هم د امریکا غږ آشنا راډیو کاکتوس+ پروګـرام سره مرکه کې پر دې اعتراف وکړ چې امن‌خونې د چارواکو د فساد، فحشـاء او تور کاروبار پر مرکزونو بدلې شوې وې. هغه د سرپل ولایت پخواني چارواکي (والي، امنیه قومندان، د امنیت رئیس او د امنیتي حوزې یو تن آمر) پر دې تـورن کړل چې په ۱۳۹۱هــ ش کال یې د امن‌خونې پر یوې نجلۍ جنسي ترې کړې و.هغه مهال په سرپل ولایت کې د امن خونې یوې اوسېدونکې له بي بي سره په مرکه کې هم پولیس تورن کړل چې جبري زناوې ورسره کوي. د دغې مسـئلې په غبرګون کې د یاد ولایت یو شمېر دیني علماوو د یو لاریون په ترڅ کې د دغو مرکزونو د تړلو غوښتنه وکړه.

لـه دې سربېره د کابـل ادارې مشر حامد کـرزي هم د دغې موضـوع په غبرګون کې وویل چـې امن‌خونې باید د افغان حکومـت تر کنټرول لانـدې راشي، خو دا چـې دغه ډول پروژې د اشـغالګرو د موخو تطبیق اصلي سرچینې وې، نو د اجیر حکومت چارواکي یې له بندولو بې‌وسه وو او تر پایه د دغو مرکزونو په بندولو بریالۍ نه‌شـول. د ځینو سرچینو پــه خبره په لومړیو کې به ناټو ځواکونو د خپلو ځواکونو د جنسي خواهشاتو اشباع لپاره له بهر څخه نجوني راوستلې چې وروسته د اخلاقي فساد په پیاوړتیا سره یې دغه خواهشات په افغانستان کې دننه له امن‌خونو او نورو غیراخلاقي مرکزونه څخه پوره کول.له دې سربېره د امن‌خونو اړوندو مؤسسو دغو مرکزونو ته د مراجعې په موخه د ښځو هڅونې لپاره د رسنیو (راډیو او ټلویزیون) له لارې خپلې ټیلفوني شمېرې هم اعلانولې څو هغه ښـځې چې په کور کې له کومې سـتونزې سره مخ کېږي، له دوی سره د اړیکو له لارې دغو مرکزونو ته مراجعه وکړي او په دې توګه یې ښځې د کور پرېښودو ته هڅولې.

که څه هم په امن خونو کې د اوسېدو لپاره حداکثر وخت دوه کاله ټاکل شوی وو، خو ځینو ښځو حتی له لسو څخه زیات کلونه په دغــو مرکزونو کې تېر کړل. همدا لاملونه وو چې اسلامي امارت د هېواد له فتحې وروسته په لومړني اقدام کې چې د بښني نړیوال سازمان او یو شمېر نورو غربي سازمانونو له غبرګون سره هم مخ شو، د فساد دغه مرکزونه په بشپړ ډول وتړل.

ارائه خدمات صحی ...

و ۹۲۸ تن در مناطق مختلف ولایت کنر بعد از معاینات ادویه لازم فراهم نموده اند.خبرنامه می‌رسـاند که طی این مدت ۲۹۴ مجروح پانسمان و برای ۱۰۷ زن و کودک جهت جلوگیری از بیماری های مختلف واکسین تطبیق و نیز برای ۲ هزار و ۸۲۹ تن در مورد حفظ الصحه مشوره‌های لازم را ارائه کرده اند.مسؤلان این اداره گفته است که برای ۲۰۸ زن خدمات نسایی ولادی ارائه و برای ۲۵۸ کودک مبتلا به سوء تغذی مواد غذایی مخصوص فراهم کـرده و همچنین بـرای ۷۲ زن در مـورد تنظیم امور خانواده گی مشـوره‌های لازم را ارائه کرده است. گفتنی است کـه قبل از این نیز اداره مذکور با نشر اعلامیه از ارایه خدمات صحی برای تعداد زیاد از شـهروند کشور در ولایات مختلف خبر داده بود.

ننګرهار کې په ۴۲ ...

شـاړه وه او اوس د مالټو د بڼ لپاره چمتو شوې ده.یاد بڼ به د صافي مومند کرنیز شرکت له لوري د شپږو میاشتو په موده کې جوړ شي.د کانال ریاسـت د مسئولینو په وینا، دا پروژه د ځمکو د سمې اسـتفادې، د کرنیزو محصولاتو د زیاتوالي او بزګرانو ته د عوایـدو د لوړولو لپاره مهم ګام بلل کېږي. مسـئولین زیاتوي، چې په راتلونکي کې به د کانال ریاست اړوند پاتې نورې شـاړې ځمکې هم ابادې او د استفادې وړ وګرځوي.

افغانستان کې د انرژۍ سپما ...

وروسته به د قابل الاجراء قانون په توګه ذیدخلو بنسټونو ته د تطبیق لپاره ولېږل شي. د دې سټنډرډ یا معیاري تګلارې د تطبیق لپاره به د کور او ښـار جوړونې وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت او د چارو ادارې د ښاروالیو د کارونو د تنظیم اداره کار کوي. د ملا قانت د خبرو پر بنسـټ، وروسته له هغې چې په ودانیو کې د انرژۍ د سپما او ضایعاتو د مخنیو دغه معیاري تګلاره او سـټنډرډ د یو الازمي او قابل اجراء قانون په توګه ومنل شي، د امارتي ادارو پینځه بنسـتونه به یــې د پلي کېدونکو پـروژو له ترسراوي پــه کلکه څارنه کوي. د لېمه بنسـټ مشر وویل، چې په یوه وخت کې به هم د سـټنډرډ د جوړېدو او هم پــه دې برخه کې د امارتي وزارتونو او ادارو انجینرانو د روزلو کار مخ ته وړي. هغه وویل، تر څو د سټنډرډ له جوړېدو سره سم د هغې د تطبیق لپاره زمینه برابروي. ښـاغلي تیموري زیاته کړه، چې د دې کار لپاره د ذهنیت جوړولو او پوهاوي عامولو لپاره په ټیټه کچــه د پوهنتون محصلینو ته هــم روزنیز پروګرامونه په پام کې لري. پوښتنه دا ده، چې دا سټنډرډ څنګه پلي کېدی شي او خلک څه مرسـته کولی شي؟د سـټنډرډ ملي ادارې تخنیکي مرسـتیال وایي، ژمن دي، چې د دې همکاریو پر مـټ د انرژۍ د مدیریت علمـي معیارونه جوړ او کیفیت یې لوړ کـړي او دغه راز دولتي او خصوصي سـکټورونه وهڅوي چې د انرژۍ سـپما ته پاملرنه وکړي. د نوموړي په خـبره: «په دې برخه کـې د متخصصینـو، انجنیرانو، خصوصي سـکټور، عملي او اکاډمیکو مرکزونو همکاري کلیدي ارزښـت ل ري، له شـک پرته چې پــه دې برخه کې خپلو اهدافو ته هغه وخت ښــه رسېدی شو چې موږ ټول یو موټی شــو او د انرژۍ د حفظ سټنډرډونه تدوین، تطبیـق او د پر ځـای او معقول مصرف کلتـور رامنځته کـړو». که دا معیارونه په سـمه توګه پـلي شي، نه یوازې دا چې انرژي سـپما کوي بلکې د چاپېریال پاکه سـاتنه، د سون لګښت کمېدل او د خلکو د ژوند ښه والی به ورسره یقیني شي.

نذیر منیب

سعودي د پولیو ...

کېږي.»د پولیو نړیوال نوښـت په یوه مطبوعاتي اعلامیه کې ویلي، د وروسـتیو کلونو پرمهال افغانستان، پاکستان او ځینو نورو هېوادونو کې بشري بحرانونه د پولیو د خپرېدو لامل شوي دي.دغه سـازمان ټینګار کړی چې په اوسـني وضعیت کې، د سعودي عربستان او نورو هیوادونو مرستې کولی شي، د پولیو په له‌منځه وړو کې مهم رول ولوبوي.د افغانستان د عامې روغتیا وزارت ویلي چې د پولیو واکسین دویم کمپاین د روانې اوونۍ دوشنبه، کب شپږمه، په ۱۶ ولایتونو کې د څلورو ورځو لپاره پیل شـوی دی.د یاد وزارت ویاند، شرافت زمان وایي: «د کب شپږمه په ۱۶ ولایتونو کې د پولیو ضد واکسین کمپاین پیل شوی چې څلور ورځې به دوام وکړي او ۶.۳ میلیونه کسان به دې دوره کې واکسین شي چې له پنځو کلونو کم عمر ولري. له علماوو او قومي مشرانو غواړو چې د واکسین له ټیمو سره مرسته وکړي، څو ښــه پلی شي او د ناروغۍ مخه ونیول شي.»افغانسـتان او پاکستان یوازیني دوه هېوادونه دي چې پولیو پکې په بشپړه توګه له‌منځه نه‌ده تللې. افغانستان کې دروان کال لومړۍ مثبته پېښه د بادغیس ولایت کې ثبت شوې ده.

کمیسیون تدارکات ملی ...

سازند. در پروژه‌های منظور شده و تعدیل شده ساخت ترمینل ترانسپورتی در شرق شهر کابل، تکمیل کارهای باقی‌مانده شـفاخانه جمهوریت در کابل، تکمیـل کارهای باقی‌مانده بندهای پاشدان هرات و بخش‌آباد فراه ، تکمیل پروژۀ حفظ و مراقبت بند سلطان در غزنی، آغاز پروژه دیزان تفصیلی بند سلطان ابراهیم در سرپل، تکمیل پروژه نصب پایه‌ها ، ساخت سب استیشن ها و تمدید لین برق از کابل به قندهار، آغاز پروژه تمدید لین برق از بند کجکی تا شهر قندهار، تکمیل کارهای باقی‌مانده شماری پروژه‌های موجود در زمینۀ برق در برخی ولایت‌های دیگر و ساخت چندین سرک داخلی شهر کابل شامل اند که از سوی امارت اسلامی تمویل می گردد.

بهر مېشتو حج ...

همدارنګه د اتشو د همغږۍ رییس مولوي احمدالله احمدي هم د یاد پروګرام په اړه معلومات او د حاجیانــو د برخې اړوند یې ګډونوالو ته وضاحت ورکړ.مولوي احمدالله احمدي ویلي؛ له شـپږ زره حج غوښـتونکو ګډوالو څخه نن د ۵۰۰ کسانو پچه اچونه وشوه، چې په ایران، پاکستان، اروپایي او امریکایي هېوادونو کې مېشت دي.د معلوماتو له مخې، ثبت شویو کسانو کې ۲۲۱ تنه په ایران، ۲۵۰ تنه په پاکستان او ۲۹ تنه په لویدیځو هېوادونو کې مېشت دي، چې له پچې اچونې وروسته غوره شول او د اسنادو د طی مراحلو لپاره به د حج او اوقافو وزارت ته معرفي شي.

دیدار وزیر اطلاعات ...

که کشور جاپان در افغانستان در آن فعالیت میکند به سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ معلومات ارائه نمود و کمک شش میلیون دالری جاپان برای افراد آسیب پذیر در افغانستان که دو روز قبل با اداره یو ان چی سـی آر (کمیساری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان) به هدف پشتیبانی از بیجا شدهگان داخلی و عودت کنندگان به افغانستان به امضا رسیده است معلومات ارائه نموده، افزود: این کمک به ایجاد پایداری و توانمندسازی بخشهای آسیبپذیر است. آقای کورومایا همچنان در مورد هئیت شش نفره که اخیراً بنابر دعوت رسمی بنیاد ساساکاوا به کشـور جاپان سفر نمودهبود گزارش ارائه نموده، که هئیت متذکره پس از بازدید از انستیتوت تحقیقاتی میراثهای فرهنگی و اداره میراث های فرهنگی توکیو که رییس موزیم ملی کشور نیز شامل هئیت بود دوباره به وطن برگشت نمودهاند. وی افزود امیداورم که این سفر زمینه برای انکشاف کار ها در بخش میراث های فرهنگی باشد.

سپس ملا خیرالله خیرخواه وزیر اطلاعات و فرهنگ ضمن خوشآمدگویی روابط افغانستان و جاپان را در طول تاریخ مثبت عنوان نموده که برمبنای صداقت و اعتماد استوار است و سفر هئیت افغانستان را که اخیراً به جاپان سفر نموده است را آغازگر روابط هر چه بیشتر فرهنگی میان دو کشور دوست عنوان نمود.

وزیر اطلاعات و فرهنگ بر همکاری همهجانبه کشـور جاپان در راسـتای حفظ میراثهای فرهنگی تأکید نموده و علاقمندی کشور جاپان در این زمینه را حایز اهمیت دانست.

همچنان مولوی عتیق الله عزیزی معین فرهنگ و هنر وزارت اطلاعات و فرهنگ در گفتهای شـان بر برگزاری برنامههای آموزشی و سیمینارهای علمی در مورد میراثهای فرهنگی کشور بحث نمود و تدویر همچو برنامه ها را در تنویر اذهانعامه در مورد آبدات تاریخی کشـور با ارزش تلقی نمود. آقای عزیزی همچنان درمورد آثار موزیم ملی، بالاحصارهای کشـور و منار جام بحث نمود و خواهان توجه کشـور جاپان در صورت نیاز بـه ترمیم این آثار و آبدهای تاریخی شد. در اخیر هر دو جانب به تحکیم و توسعه روابط فرهنگی میان افغانستان و جاپان تأکید نمودند.

اسفندیار

د تورخم په اړه...

اوسـېدونکو ته یې ګڼې ستونزې راپورته کړې دي.د تورخم دروازه د روانې اوونۍ د شنبې له ورځې تړل شوې چې دواړو لوریو ته په سوداګریزو توکو بار سلګونو موټرونو کتارونه جوړ کړي او ګڼ خلک د لارې خلاصېدو په تمه دي.

کندهار کې د یوه...

د چارو په پرانیست غونډه کې اړین معلومات له ګډونوالو سره شریک کړي او د اوبو د غوره مدیریت په هکله یې خبرې کړې دي.دا چک‌ډېم د ۱۰۷ متره په اوږدوالي او ۴.۵ متره لوړوالي سره د یاد وزارت په مالي لګښت د کندهار د اوبو او انرژۍ ریاست تر څارنې لاندې جوړېږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې اووه زره متره مکعب اوبه زېرمه شي.همداراز په یاده پروژه کې یو شمېر خلکو ته د کار زمینه چمتو شوې او چارې به یې د درېیو میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Wednesday 26 February 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 692

بهر مېشتو حج غوښتونکو افغانانو ته پچه اچونه ترسره شوه

د کډوالـو او راسـتنېدونکو چارو وزارت وايي؛ ايران، پاکستان او نورو لوېديځو هېوادونو کې د مېشتو ۵۰۰ کډوالو، چې د حـج د فريضې د ادا کولو لپاره يـې نوملیکنه کړې وه، د پچې اچونې پروسه په ياد وزارت کې ترسره شوه.دا پچه اچونه د کډوالو او راسـتنېدونکو چارو وزارت د مالي، اداري او مسلکي مرستيالانو، مرکزي رييسـانو، د چارو عمومي اداري او د ارشـاد، حج او اوقافـو وزارت د استازو په شـتون کې ترسره شوه.د يـاد وزارت مالي او اداري مرسـتيال شيخ کليم الرحمن فاني وويل؛ خوښ يم چې د يو داسـې برکتي پروګرام برخه يم، چې پکې د حج د فريضې د ادا کولـو نيت لرونکـو کډوالو لپاره پچه اچونـه ترسره کېږي.حج د الله تعالی يو بې‌سـاری عبادت او تر ټولو غـوره راټولېدنه ده.نوموړي زياته کړه؛ حج يوه سـتره فريضه او د الله تعالی سـپېڅلی امر دی، چې بې‌شـمېره برکتونه لري او د انسان د ژوند په جوړولو کې مهم رول لري.د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد وويل؛ حج ته تلل نيکمرغي ده، د الله تعالی شکر ادا کوو، چې موږ ته يې دا فرصت راکړ، څو د مظلومو کډوالـو لپاره د حـج د فريضې د ادا کولو پچه اچونه ترسره کړو.نوموړي زياته کړه، د اسلامي امارت په راتګ سره دا زمينه برابره شوې او سلګونه کـډوال د حج فريضـې ادا کولو ته استول شوي دي. ۳مخ

افغانستان کې د انرژۍ دسپما او د ضایعاتو د مخنیوي سټنډرډ جوړېږي

په افغانستان کې د انرژۍ د کمښت او د سـون توکو د لوړ لګښـت له امله د ودانيو لپاره د انرژۍ د سپما او ضايعاتو دمخنيوي‌سټنډرډجوړېږي، دا نوښت به د کورونو او سوداګريزو ځايونو د سون مصرف کم او د هوا د ککړتيـا مخه ونيـسي. په همدې سـټنډرډ د کار پيلولو لپاره د اسلامي امارت سټنډرډ ادارې لوی رئيس ملا فيض الله تميم او د لېمه مشـورتي او مديريتي بنسـټ مشر انجينر محمد عمـر تيموري پـرون د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې يوه هوکړه لاسـليک کړه. ملا فيض الله تميم د هوکړې د لاسـليک پر مهال جوړ شـوي کنفرانس تـه په خپلو خبرو کـې، د يو هېواد په پرمختګ او ځان بسياينه کې د انرژۍ رول مهم وباله او په وينا يې، ضايع کول يې د ودانيزو او بنسټيزو چارو لپاره ستره ننګونه ده. هغه زياته کړه: «له همدې امله، د مشورتي، ليبل لګونې، تفتيش او د انرژۍ مديريت بنسـټ (ليمه) سره ددې تړون‌ليک لاسليک زموږ لپاره ځانګړې ارزښت لري، چې په ځانګړي ډول د انرژۍ ښه مديريت ته لاره هواروي». د سـټنډرډ ادارې تخنيکي مرسـتيال ملا محمد اصف قانت د دغه سـټنډرډ پـه اړه وويل، چې د تطبيق لپاره يې ۳ کلن پلان په پام کې نيول شـوی خو وايي، هڅه کوي چې ژر تـر ژره جوړ او عملي کېدو ته ورانديې شي. د هغه په خبره، د جوړېدونکي سـټنډرډ مسوده له تدوين وروسته د سټنډرډ ملي ادارې د تخنيکي کمېټې له لوري طی مراحل او عالي شورا له تأييد ۳مخ


د تورخم په اړه د پاکستان خیالي غوښتنې

د ننګرهار ولايت د اطلاعاتو کلتور رياست د اطلاعاتو امر مولوي صديق الله قريشي ويلي، تېره ورځ د ننګرهار مرسـتيال والي او تورخم کميسار له پاکستان لوري سره تر ناوخته غونډه درلوده، خو د پاکستاني لوري د ناسمو غوښـتنو له املـه بې پايلـې پای ته ورسـېده.په دې غونډه کې پاکستاني لـوري غوښـتنه کړې، چـې افغان لوری دې د فرضي کرښـې اوږدو کې د تاسيسـاتو له جوړولو ډډه وکړي. دويمه غوښتنه دا وه چې افغان لوری دې د فرضي کرښـې هغې غاړې ته د جوړېدونکو تاسيسـاتو په وړاندې ممانعت نه کوي، چې له همدې امله ددواړو لوريو غونډه کومه مثبته پايله نه درلوده.دا په داسې حال کې ده،چې پاکستاني لوري د ډيورنډ فرضي کرښې ته څېرمه د پوځي تاسيساتو جوړولو په غبرګون کې د تورخم دروازه د هر ډول تګ راتګ پر مخ وتړله، چې د کرښې دواړو غاړو ۳مخ

کابل کې پر سلګونو یتیمانو او معلولینو خوراړه وېشل کېږي

د شهيدانو او معلولينو وزارت وايي چـې د وزارت او د بشري مرسـتو ټولنې ترمنځ د لاسليک شوي تړون پر بنسټ، په کابل ولايت کې نږدې ۱۰۰۰ کونډو، يتيمانو او معلولينو ته به اته قلمه خوراکي توکي ووېشل شي.د شـهيدانو او معلولينو چارو وزارت مطبوعاتي دفتر پرون په يوه اعلاميـه کې ويلي چـې د جمعيت بـشري مرسـتو بنسـټ سره يې د يتيمانو، کونـډو او معلولينو لپاره د خوراکـي توکـو د برابرولو او وېشلو لپاره يو تړون لاسليک کړ، د يادونـې وړ ده چې د پروژې ټول ارزښت (۴۱) زره (۷۷۲) امريکايي ډالر دی، چـې د وزارت د ټولنيزو خدماتو د مقررۍ رياست او د کابل ولايت د شهيدانو او معلولينو چارو رياسـت سره په همغږۍ کې به پلي شي.

سعودي د پولیو د له منځه وړلو لپاره ۵۰۰ میلیونه ډالره ځانګړي کړي



د افغانسـتان پـه ۱۶ ولايتونو کې د پوليو ضد واکسـين کمپاين د دويم پړاو پيلېدو سره هم مهاله، سـعودي عربسـتان ويـلي، په افغانسـتان او پاکستان کې به پوليو سره د مبارزې لپاره ۵۰۰ ميليونه ډالر مرسته وکړي. دا پيسـې به د پوليـو لەمنځه وړو د نړيوال نوښـت له لارې افغانسـتان او پاکسـتان ته ځانګـړې شي.د دې سازمان له‌خوا په خپره شوې اعلاميه کې راغلي: «د سعودي عربستان پاچا د رياض څلـورم نړيوال بشري فورم په جريان کـې د پوليو لەمنځه وړو نړيوال نوښـت (GPEI) له لارې د ۵۰۰ ميليونه ډالرو ژمنې تاييد کړې. دا مالي مرسته افغانستان او پاکستان کې پوليو سره د مبـارزې لپاره ده او همدارنګه د نړۍ په نورو برخو کې د پوليو د بدلو شويو ښو د خپرېدو پر مخنيوي هم لګول ۳مخ

ارائه خدمات صحی برای ۲۸۲۹ تن در کنر

دفتر مطبوعاتـی جمعيت هلال احمر افغانی ديروز بانشر خبرنامه ای از ارائـه خدمات صحی برای تعداد زياد از باشـندگان ولايت کنر طی يـک ماه اخير خبر داده اسـت.به نقل از خبرنامه، هلال احمر افغانـی از طريق داکتران صحی خويش طی ۳۰ روز گذشته برای ۲ هزار ص۳



احتمال اتش بس اوکراین طی هفته های پیش رو



رئيس‌جمهور فرانسه اعلام کرد که برقراری آتش‌بس در جنگ اوکراين طی هفته‌های پيش رو امکان‌پذير است.امانوئل ماکرون پس از ديدار با دونالد ترامپ، رئيس جمهور امريکا در واشنگتن دی سی، وعده آتش بس در جنگ اوکراين در هفته های آينده را داد.وی پس از اين ديدار در مصاحبه‌ای با شبکه خبری محافظه کار آمريکايی فاکس نيوز گفت: فکر می کنم اين کار شـدنی است». ترامپ هم پيش از اين گفته بود که جنگ در اوکراين می‌تواند «در عرض چند هفته» پايان يابد.ماکرون همچنين گفت که با سران کشورها و دولت های اروپايی صحبت کرده و بسياری از آنها مايل به ارائه تضمين های امنيتی هستند. به گفته وی آتش بس پيش نياز مذاکرات صلح است. رئيس جمهور فرانسـه از نزديک شـدن قوی روابط ميان او و ترامپ در رابطه با اوکراين صحبت کرد.

بارش بی‌سابقه برف درجاپان؛ ارتفاع برف در بعضی مناطق به پنج متر رسید



بارش شديد برف طی چند هفته گذشـته در جاپان، زندگی بسياری را مختل کرده است.به گزارش آژانس باختر، به نقل از رسانه های بين المللی، پيش‌بينی می‌شود که اين بارش، پس از دو هفته همچنان ادامه داشته باشد.اين بارش بی‌سابقه، شهرها و روسـتاهای بسياری را زير توده‌های سـنگين برف مدفون کرده است. در يکی از مناطق اسـتان آئوموری در جاپان، ارتفاع برف به حدود پنج متر رسيده است.اين وضعيت باعث اختلال گسـترده در رفت‌وآمد شـده و همچنين تا اين لحظه چهار تن جان خود را از دست داده‌اند.شمال جاپان، يکی از برف‌گيرترين مناطق جهان اسـت، اما چندين منطقه زمستان امسال رکوردهای جديدی ثبت کرده‌اند.سازمان هواشناسی اين کشور به مردم درباره احتمال وقوع برفکوچ و يخ‌زدگی در جاده‌ها هشدار داده است.

خواست یک نهاد امریکایی از محکمه لاهه: بایدن را بابت همدستی درجنگ غزه محاکمه کنید

يک سازمان غيرانتفاعی مسـتقر در ايالات متحده، از محکمه بين‌المللی جزايی لاهه خواسـتکه از جو بايدن، رئيس‌جمهور پيشـين امريکا و دو عضـو کابينه‌اش به دليل «همدسـتی وکمک» به «جنايت جنگی و جنايت عليه بشريت» در غزه تحقيق کند. سازمان«دموکراسی برای عرب اکنون» ماه گذشته اين درخواست را به محکمه ی لاهه ارائه کردهاما اين موضوع روز دوشـنبه علنی شـد.اين سازمان ازمحکمه ی بين‌المللی جزايی لاهه خواسـت که از آنتونی بلينکن، وزير خارجه پيشين امريکاو لويد آستين، وزير دفاع پيشين ايالات متحده نيز به دليل ««نقش‌های دستيارانه درکمک و مشارکت و همچنين مشارکت عمدی در جنايات جنگی و جنايات عليه بشريت اسرائيل درغزه» تحقيق کند.سال گذشته،محکمه‌ی‌بين‌المللی جزايی لاهه،حکم‌بازداشت‌بنيامين‌نتانياهو، نخست‌وزير رژيم‌اشغالگراسرائيل و يوآو گالانت وزير دفاع پيشين اين رژيم را به اتهام جنايات جنگی‌مربوط به‌جنگ غزه‌صادر کرد.

